د امتیاز خاوند : د عدلیې وزارت
مسئول مدیر : محمد یوسف روښنفکر
تلفون ۲۳۳۳۰
پته : رسمی جریده کابل افغانستان

# رسمی جریده

د افغانستان د پادشاهی دولت رسمی خپرونه

فوق العاده گڼه

۲٤ گڼه | پنجشنبه د دلو (۲۱) | ۱۳٤٤ هجري شمسی کال | پر له پسی گڼه (٤٦)


## دافغانستان او شوروی اتحاد

### گډه اعلامیه

دافغانستان صدراعظم جلالتماب محمد هاشم میوند وال اوده محترمه میرمن دشوروی اتحاد دحکومت په بلنه د ۱۳٤٤ کال د دلوی له دوولسمی نیټی څخه تریوویشتمی نیټی پوري چه د ۱۹٦٦ عیسوی کال دفبروری له اول څخه تر لسمی نیټی پوری کیږی شوروی اتحاد ته رسمی او دوستانه مسافرت وکړ.

پدغه مسافرت کښی دغه کسان له صدراعظم جلالتماب محمدهاشم میوند وال سره ملگری وه :

دخارجه چاروو وزیر جلالتماب نوراحمد اعتمادی، دپلان وزیر جلالتماب پوهاند دکتور عبدالحکیم ضیائی، په شوروی اتحاد کښی افغانی لوی سفیر جلالتماب جنرال محمدعارف، دخارجه چارو دوزارت سیاسی لوی مدیر دکتور روان فرهادی دافغانستان دولسی جرگی غړی ښاغلی وکیل عبدالغفور باهر او ښاغلی وکیل هلال الدین بدری، دخارجه چارو دوزارت داقتصادی روابطو مدیر دکتور عبد الواحد کریم او نور افغانی رسمی لوی کسان

صدراعظم جلالتماب محمدهاشم میوند وال د شوروی اتحاد د دولت له مشرانو، ای بریژنیف ا، ن کاسیگین، ن و پادگورنی گ، ت مازوروف، د خارجه چارو له وزیر ا، اگرومیکو سره کتلی او خبری ئی ورسره کړیدی پدغو خبرو کښی د شوروی اتحاد له خوا دغو کسانو گډون درلود.

له خارجی دولتو سره داقتصادی روابطو په چارو کښی د شوروی اتحاد دوزیرانو د شوری د دولتی کمیټی د رئیس اول معین ا ی، و، ارخیپف د شوروی اتحاد د خارجه چارو د وزارت معین سیمیونوف، د خارجی تجارت د وزیر معین پ، ن کومیکین، په افغانستان کی دشوروی اتحاد لوی سفیر، ك، ای الکساندر، دشوروی اتحاد په خارجه وزارت کی د منځنی ختیځ دهیواد ود څانگی رئیس س، پ کیکتیف اودشوروی اتحاد خارجی تجارت په وزارت کښی د آسیا د جنوب ختیځی سیمی او نژدی ختیځ له هیواد وسره دتجارت داداری رئیس و، ب سپانداریان.

دافغانستان له خوا په د غوخبرو کښی د خارجه چارووزیر، دپلان وزیر، افغانی لوی سفیر او د خارجه چارو د وزارت سیاسی لوی مدیر برخه اخیستی وه.

دغه کتنی او خبری د پوره دوستی صمیمیت او ښه نیت په محیط کښی چه د د واړو هیوا د ود پخوانیو علایقو ممیزه ده وشوی.

صدراعظم جلالتماب محمد هاشم میوند وال اوده ملگری دشوروی اتحاد له پایتخت د مسکو له ښار سره آشنا شول او دیالتا، دوشنبه، تاشکند او سمرقند ښارونو ته ئی مسافرت وکړ.

جلالتماب صدراعظم اوده ملگرو له سمرقند څخه تاشکند ته د بیرته

## اعلامیه مشترك افغانستان و

### اتحاد شوروی

جلالتماب محمدهاشم میوند وال صدراعظم افغانستان وخانم محترمه ایشان بنا به دعوت حکومت شوروی از تاریخ ۱۲ الی ۲۱ دلو ۱۳٤٤ مطابق اول الی ده فبروری ۱۹٦٦ به اتحاد شوروی مسافرت رسمی ودوستانه نمودند.

درین مسافرت رسمی ذوات آتی الذکر درمعیت جلالتماب محمد هاشم میوند وال صدراعظم بودند :

جلالتماب نوراحمد اعتمادی وزیر امور خارجه، جلالتماب پوهاند دکتور عبدالحکیم ضیائی وزیر پلان، جلالتماب جنرال محمد عارف سفیر کبیر افغانی دراتحاد شوروی، دکتور روان فرهادی مدیر عمومی سیاسی وزارت امور خارجه، ښاغلی وکیل عبدالغفور باهر و ښاغلی وکیل هلال الدین بدری اعضای ولسی جرگه افغانستان، دکتور عبدالواحد کریم مدیر روابط اقتصادی وزارت امور خارجه ودیگر شخصیت های رسمی افغانی.

جلالتماب محمدهاشم میوند وال صدراعظم بازعمای دولت اتحاد شوروی ل. ای. بریژنیف، ا. ن. کاسیگین، ن. و. پادگورنی ات گ. ت مازوروف، ا. ا. گرومیکو وزیر امور خارجه ملاقات ومذاکره نمودند.

درین مذاکرات ازطرف اتحادشوروی اشخاص ذیل شرکت نمودند:

ای. و. ارخیپف معین اول رئیس کمیتهٔ دولتی شورای وزیران اتحادشوروی درامور روابط اقتصادی با دول خارجه، د. س. سیمیونوف معین وزارت امورخارجهٔ اتحادشوروی، پ. ن کومیکین معین وزیر تجارت خارجی اتحاد شوروی، ك. ای الکساندروف سفیر کبیر اتحادشوروی در افغانستان، س. پ. کیکتیف رئیس شعبهٔ کشورهای شرق میانه در وزارت خارجهٔ اتحادشوروی، و. ب سپانداریان رئیس ادارهٔ تجارت با کشورهای جنوب شرقی آسیا وشرق نزدیك وزارت تجارت خارجی اتحاد شوروی.

از جانب افغانستان درمذاکرات وزیر امور خارجه، وزیر پلان، سفیر کبیر افغانی ومدیرعمومی سیاسی وزارت امور خارجه سهم گرفتند.

این ملاقات ها ومذاکرات درمحیط دوستی وصمیمیت وحسن تفاهم کامل که ممیزهٔ علایق دیرینهٔ هردو کشور میباشد، صورت گرفت.

جلالتماب محمدهاشم میوندوال صدراعظم باهمراهان ایشان باشهر مسکو پایتخت اتحاد شوروی آشنا شده به شهرهای یالتا، دوشنبه تاشکند وسمرقند مسافرت نمودند جلالتماب صدراعظم وهمراهان

ستنیدو په وخت کښی دبایرددښتی سیمه وکتله اوپه هغه ځای کښی داوبو لګولو له تاسیساتو او له وچو ځمکو څخه دګټی اخیستلو له تجربو سره آشناشول.

ددغه مسافرت په ضمن کښی افغانی عالی قدر و میلمنو موقع پیدا کړه چه دشوروی دخلکو له ژوندسره آشنائی پیدا کړی.

دوی دتاجکستان او ازبکستان دسوسیالیستی شوروی جمهوریتو په ګډون دشوروی اتحاد صناعتی، علمی اوفرهنګی موسسی وکتلی او په هرځای کښی ددوی تو داودزړه له کومی هرکلی وشو.

په مسکو کښی جلالتمآب محمدهاشم میوندوال او ملګروئی دشوروی اتحاد اوافغانستان ددوستی اوفرهنګی روابطو دټولنی له غړیو سره ددوستانه کتنی په مجلس کښی ګډون وکړ.

—۱—

دمسکو دخبروپه وخت کښی چه دښه نیت اوصمیمیت په محیط کښی وشوی دافغانستان اوشوروی اتحاد ددوستانه روابطو دمربوطو مسئلو دغه راز دهغه بین المللی مسئلو په باره کښی چه دواړه خواوی علاقه ورسره لری خبری وشوی دواړو خواوء دشوروی اتحاد اوافغانستان دمناسباتو له اوسنی حالت څخه چا دواقعی دوستانه اوښه ګاونډیتوب خصوصیات لری او دافغانستان اوشوروی اتحادله ملی منافعو سره مطابقت لری خپل رضایت څرګند کړ.

دواړو خواوء دخپلو هیوادو داقتصادی اواجتماعی انکشاف دجریان په باره کښی خبری سره وکړی.

دواړوخواوء دښه ګاونډیتوب ددوستی دروابطو د دوام، دمتقابل اعتماد، دیو بل په چارو کښی دمداخله نه کولو په باب خپل تینګ تصمیم یو ځل بیا ښکاره کړاو دغه حقیقت ئی تائید کړچه د دغو روابطو ساتنه اولا کلک والی ددواړو هیواد و دخلکو له صمیمی هیلواود آسیا دسیمی اونړی دسولی اوامنیت له ګټو سره مطابقت لری، دواړه خواوی په ژوره رضائیت مندی ددوستی دهغه تړون یادوونکی شوې چه دمتقابل احترام او دیو بل دخپلوا کۍ دپیژندلو له پاره پنځه څلویښت کاله پخوا د۱۲۹۹ کال دکب دمیاشتی په ۱۰ نیټه چه د۱۹۲۱ کال دفبروری له۲۸ نیټی سره سمون خوری دمسکو په ښار کښی ددواړو هیوادو ترمنځ وشو.

او ددغو کلو په موده کښی دغه تړون ددواړو دولتو له خوا په پوره صمیمیت سره رعایت کیږی، اودغه مهم تاریخی سند دنړۍ په دغه سیمه کښی دسولی ددوام او کلکوالی یو عامل پیژندلی او پیژنی ئی. دواړوخواوو ګډه عقیده ښکاره کړه چه دافغانستان دلومړی اودوهم پنځه کلنو پلانو په عملی کیدو کښی له افغانستان سره دشوروی اتحاد مساعدتو نو ښکاره اوڅرګند نقش ارلی دی اودغو پلانو داقتصادی زیر بنا په تهیه کولو کښی ئی مهمه برخه تشکیل کړی ده.

دواړو خواوعقیده څرګنده کړه کوم تصمیم چه شوروی اتحاد دافغانستان ددریم پنځه کلن پلان دعملی کیدو په باره کښی (۱۳۴۶-۱۳۵۱) مطابق له (۱۹۶۷-۱۹۷۲) سره د دوستانه اوبی شائبی مساعدتونو ددوام لپاره نیولی دی پراخ او مثبت تأثیر به ولری.

دواړه خواوی ټینګه عقیده لری چه دشوروی اتحاداوافغانستان ترمنځ اقتصادی، تخنیکی، علمی اوفرهنګی همکاریو اوتجارتی روابطو د زیاتی پراختیا لپاره چه ددواړو خواوو له ګټو سره مطابقت لری پراخه سیمه اووسیع امکانات موجود دی.

دواړوخواوء ددواړو هیوادو ترمنځ دتجارتی علایقو له جریان څخه رضائیت څرګند کړاو ددواړو هیوادو دګټو په اساس ئی د دغو روابطو په زیاته پراختیا موافقه سره وکړ.

دواړوخواوء یقین ښکاره کړچه دسالنګ دلوئی لاری اودلویدیځی ستری لاری بشپړه کیدل به چه له افغانستان سره دشوروی اتحاد په دوستانه مرستو ئی صورت موندلی دی د شوروی اتحاد او افغانستان ترمنځ

ایشان درموقع باز گشت ازسمرقند به تاشکند ازناحیهٔ دشت بایربازدید نموده در آنجا باتاسیسات آبیاری وتجارب بهره برداری اززمین های خشك آشناشدند درضمن این مسافرتها مهمانان عالیقدر افغانی موقع یافتند بازندگی مردم شوروی شناسایی بعمل آورند ایشان از موسسات صناعتی، علمی وفرهنگی اتحادشوروی به شمول جمهوریت های شوروی سوسیالیستی تاجکستان وازبکستان دیدن نمودند و در همه جا ازایشان پذیرایی صمیمی وگرم بعمل آمد.

درمسکو جلالتماب محمدهاشم میوند وال و همراهان ایشان در مجلس ملاقات دوستانه‌ای بااعضای انجمن روابط دوستی وفرهنگی اتحاد شوروی وافغانستان شرکت نمودند.

—۱—

درجریان مذاکرات مسکو که درمحیط حسن تفاهم و صمیمیت انجام یافت دربارهٔ مسایل مربوط به روابط دوستانه افغانستان واتحاد شوروی وهمچنین راجع به مسایل بین المللی که مورد علاقه طرفین میباشد، تبادل افکار بعمل آمد. طرفین از وضع فعلی مناسبات اتحاد شوروی وافغانستان که‌دارای خصوصیت دوستانه واقعی وحسن همجواری بوده بامنافع ملی مردم افغانستان واتحاد شوروی مطابقت دارد، رضایت خود را اظهار نمودند.

طرفین راجع به جریان انکشاف اقتصادی واجتماعی کشورهای خود تبادل افکار نمودند.

طرفین تصمیم واثق خویش رابرای دوام روابط دوستی، همسایگی نیك اعتماد متقابل، عدم مداخله در امور یکدیگر مجدداً اظهار داشته واین حقیقت راتایید نمودند که حفظ وتشئید این روابط مطابق آرزومندی صمیمی مردمان هردوکشور وبه منفعت صلح وامنیت منطقهٔ آسیا وهمه جهان میبا شد.

طرفین بارضایت مندی عمیق متذکر شدند که چهل وپنج سال قبل بتاریخ ۱۰ حوت ۱۲۹۹ مطابق ۲۸ فبروری ۱۹۲۱ معاهدهٔ دوستی مبنی بر احترام متقابل وشناسایی استقلال یکدیگر در شهرمسکو بین هردوکشور منعقد گردید وطی این سالیان این معاهده ازطرف هردو دولت باکمال صمیمیت رعایت میشود وآن سند مهم تاریخی را یکی ازعوامل دوام وتشئید صلح درین ناحیهٔ جهان شناخته اند ومی شناسند.

طرفین اظهارعقیدهٔ مشترك نمودند که مساعدت های اتحاد شوروی به افغانستان درعملی شدن نخستین ودومین پلان پنج سالهٔ افغانستان نقش بارزی داشته ودرتهیهٔ زیربنای اقتصادی آن، قسمت مهمی راتشکیل میدهد.

طرفین اظهارعقیده نمودند تصمیمی که اتحادشوروی برای دوام این مساعدتهای دوستانه وبی شایبه درعملی شدن سومین پلان پنج سالهٔ افغانستان ۵۱ - ۱۳۴۶ (مطابق ۷۲ - ۱۹۶۷) اتخاذکرده است، تاثیر وسیع ومثبت خواهد داشت.

طرفین عقیدهٔ راسخ دارند که برای توسعهٔ بیشتر همکاری اقتصادی وتخنیکی وعلمی وفرهنگی و روابط تجارتی بین اتحاد شوروی وافغانستان که مطابق منافع جانبین میباشد دورنما وامکانات وسیع وجود دارد.

طرفین ازجریان علایق تجارتی بین هردوکشور اظهاررضایت ودربارهٔ توسعهٔ مزید این روابط براساس منافع هردوطرف اظهارموافقت نمودند

طرفین ابرازیقین نمودند که خاتمه یافتن شاهراه سالنگ وشاهراه غربی افغانستان که به مساعدت های دوستانهٔ اتحاد شوروی صورت گرفته درتوسعهٔ تجارت ومواصلات وحمل ونقل بین اتحاد شوروی وافغانستان وهمچنین بین اتحاد شوروی و جنوب آسیا تاثیر بزرگ و نافع وارد خواهدکرد.

د تجارت، مواصلاتو او حمل اونقل په توسعه اودشوروی اتحاداودآسیا دجنوب ترمنځ په مواصلاتو او تجارت باندی ستراو گټور تأثیرولری .

دافغانستان جلالتماب صدراعظم ددی منطقی دهیوادو ترمنځ دعلایقو دزیاتو ښه کیدو دامکاناتو په لټه اوددوی ترمنځ دمسالمت آمیزی همکاری دپراختیا په باره کی دخپل حکومت له خط مشی سره سم چه د خپلواکی د تحکیم، دخلکو او ملتونو دسرنوشت دټاکلو د حق دملاتړ او د الحاق نه کولو دسیاست د دوام په گټه دی د افغانستان د ملت له گټو او هیلو اودنړی له سولی سره مرافقت لری خپل نظریات توضیح کړل .

د شوروی اتحاد د وزیرانو د شوری جلالتماب رئیس تأیید کړه چه د افغانستان دالحاق نه کولو او بیطرفی سیاست اود نړی د خلکو ترمنځ دسولی اودوستی د تحکیم په لارکی د دوی سیاست د دغی سیمی دوضعی په ښه کیدو اودبین المللی خرپړتیاوو په رفع کولو کی ښکاره اوجوته برخه لری .

دواړوخواوو عقیده څرگنده کړه چه دافغانستان اوشوروی اتحاد ترمنځ د ښه گاونډیتوب دعلایقو بی شائبی دوستی او اقتصادی همکاری اوسنی موجودیت د مختلفو رژیمونو لرونکو هیوادو ترمنځ د مسالمت آمیزه گډ ژوند ترټولو ښه نمونه ده .

اود دغو علایقو ورځ په ورځ زیاتیدونکی تقویت دد واړو ملتونو له صمیمی هیلو او گټوسره اود نړی دسولی له منافعو سره موافقت لری.

—۲—

د دواړو خواوو دبین المللی مهمو مسئلو په باره کی خبری وکړی اوو ویل چه هر یو به دنه ستومانه کید ونکو په ډول دبین المللی سولی او امنیت د ټینگید ود پاره خپلو کوښښونو ته دوام ورکړی .

د واړوخواوو د دواړوهیوادو د ود مشرانو د متقابلو تماسونو مفید والی څرگند کړاود افغانستان اوشوروی اتحاد دگډواعلامیو او اسنادو مندرجه پرنسیبونه چه دبین المللی سولی او همکاری دگټو سره سم دی بیاتائید کړل اوعقیده ښکاره کوی چه دسیمی دهیوادودمشرانو ترمنځ دغه ډول تماسونه دتفاهم اوهمکاری د ښه کید ودپاره ډیر گټوراوموثراقدام دی.

دواړوخواو ود هغو خلکوا وملتود کو ښښونو څخه خپل پوره ملاتړ ښکاره کړ چه د خپل سرنوشت د ټاکلود حق اود خپلی آزادی د تأمین دپاره دپرد یو د تسلط په ضد اود استعما راود هغه دمختلفو اشکا لو په مقابل کښی مجادلـه کوی .

دواړه خواوی ټینگه عقیده لری چه دخارجی نظامی اډوړنـگیدل اودداسی سیمو برقراری چه اتومی وسله پکښی نه وی د نړی دعمومی سولی د گټی اودهیوا دواوملتود هیلو او آرزوگانو سره سم دی.

دواړه خواوی عقیده لری چه د نړی د ټولو دولتو له خوا دملگروملتو دمنشور مندرجه اصولو رعایت لازمی دی چه دغه موسسه دنړی دسولی او امنیت په ټینگولوا و د بشریت په تـرقـی کښی ډیرموثرنقش اجرا کـړی .

دملگروملتو دنو روغړوواره په وارزیاتیدونکی نقش دهغو دفعالیت په جریان کښی گټوردی اوهیله کیږی چه د دغه کارپه سیوری کی د دی جهانی موسسی فعالیت پراختیا ومومی اودی ته متوجه شی چه په عام اوتام صورت د بی وسلی کولو دگټو د حاصلولواو په هرنوم اورسم چه وی د استعمارد پوره له منځه وړلواود نړی د ټولو ملتود اقتصادی ترقی سره مرسته اومساعدت وکړی

دواړوخواوو ددولتو په داخلی چاروکی دمداخلی دنه کولواودهغوی د خپلواکی اوحاکمیت د رعایت په باره کښی د ملگروملتو د موسسی د عمومی ټولنی دغونډو دشلمی دوری دمصوبه اعلامیی ستر اهمیت ښکاره کړاو ددغی اعلامیی دمقرراتو د بلا شرطه اجراقطعی ضرورت ئی یاد کړ .

د واړو خوا وو د اتومی وسلی د نه خپریدلو د تړون د ژرترژر کیدو دضرورت په باره کښې د ملگروملتود موسسی دعمومی ټولنی د غونډو د شلمی دوری دفیصله نامی لوی اهمیت یاد کړاو په د غه تړون

جلالتماب صدراعظم افغانستان دربارهٔ جستجوی امکانات مزید بهبود علایق بین کشورهای منطقه و توسعه همکاری مسالمت آمیز بین آنها بر حسب خطمشی حکومت خویش که به نفع دوام سیاست تحکیم استقلال پشتیبانی ازحق تعیین سرنوشت مردمان وملل و عدم الحاق بوده، با آرزوها ومنافع ملت افغانستان وصلح جهان موافق میباشد، نظریات خویش را توضیح کردند . جلالتماب رئیس شورای وزیران اتحاد شوروی تایید نمودند که سیاست عدم الحاق وبیطرفی افغانستان وسیاست آن در راه تحکیم صلح ودوستی بین مردمان جهان در بهبود اوضاع منطقهٔ مذکور و رفع کشیدگی های بین المللی سهم بارزی دارد.

طرفین اظهار عقیده نمودند علایق همسایگی نیك، دوستی بی شائبه وهمکاری اقتصادی موجود بین افغانستان واتحاد شوروی بهترین نمونهٔ همزیستی مسالمت آمیز بین دو کشور دارای رژیم های مختلف میباشد وتقویت روزافزون این علایق موافق به آرزوهای صمیمی ومصالح هردوملت ومنفعت صلح جهان است .

—۲—

طرفین راجع به مهمترین مسایل بین المللی تبادل افکار نموده اظهار داشتند که هر کدام مساعی خویش را برای تحکیم صلح وامنیت بین المللی بطور خستگی ناپذیر ادامه خواهند داد .

طرفین مفید بودن تماس های متقابل زعمای هر دو کشور را خاطرنشان نموده پرنسیپ های مندرجهٔ اسناد واعلامیه های مشترك افغانستان واتحاد شوروی را که مطابق منافع صلح وهمکاری بین المللی میباشد ، مجدداً تایید واظهار عقیده می نمایند که توسعهٔ این چنین تماس ها بین زعمای کشور های منطقه برای بهبود تفاهم وهمکاری مفیدترین وموثرترین اقدام است .

طرفین پشتیبانی کامل خود را از مجاهدات مردمان ومللی که برای تامین حق تعیین سرنوشت وآزادی خویش علیه تسلط اجنبی ودر مقابل استعمار واشکال مختلف آن مجادله میکنند، اظهار نمودند .

طرفین اعتقاد راسخ دارند که انحلال پایگاه های نظامی خارجی وبر قراری مناطق فارغ از سلاح ذروی مطابق منفعت صلح عمومی وتمایل وآرزو های کشور ها وملل جهان میباشد .

طرفین عقیده دارند که رعایت اصول مندرجهٔ منشور ملل متحد از طرف همه دول جهان لازمی است تا آنکه سازمان مذکور در تحکیم صلح وامنیت جهان وترقی بشریت نقش موثر تری ایفا کند.

نقش روز افزون اعضای جدید ملل متحد در جریان فعالیت آن سودمند بوده وتوقع میرود در سایهٔ این امر فعالیت این سازمان جهانی کسب توسعه کند ومتوجه آن شود که به حصول منافع حل موضوع خلع سلاح عام وتام ورفع کامل استعمار بهر اسم ورسمی که باشد وبه ترقی اقتصادی همه ملل جهان مساعدت نماید.

طرفین اهمیت بارز اعلامیهٔ مصوبهٔ بیستمین دورهٔ اجلاسیهٔ مجمع عمومی سازمان ملل متحد را در بارهٔ عدم دخالت در امور داخلی دول ورعایت استقلال وحاکمیت آنان را خاطر نشان نموده ضرورت مبرم اجرای بلاشرط مقررات آن اعلامیه را متذکر شدند.

طرفین اهمیت بزرگ فیصله نامهٔ بیستمین دورهٔ اجلاسیه مجمع عمومی سازمان ملل متحد را در بارهٔ ضرورت انعقاد هرچه زودتر پیمان عدم اشاعه وانتشار سلاح ذروی خاطرنشان نمودند ودرین پیمان نباید «هیچگونه روزنه ای وجود داشته باشد که عملی نمودن اشاعه

کښې باید (هیځ دول داسی کړ کی‌وجودونه لری چه په مستقیم اوغیر مستقیم دول داتومی وسلې دخپریدلو عملی کیدل په‌هرشکل‌چه وی داتومی وسله‌لرونکو یادهغی دنه‌لرونکو دولتو دپاره ممکن کړی)دهستوی وسلی دنه خپریدلو په باره کښې ددغه‌دول تړون کیدل د ټولو خلکو دګټوسره موافق‌دی.

دواړوخواوهیله ښکاره کړه چه ذیعلاقه دولتونه داسی موافقی ته ورسیږی چه د هغی په موجب تعهد وکړی چه د اتومی وسلی‌د هردول استعمال نه‌لاس واخلی اوټول اتومی ازمیښتونه‌بلااستثناممنوع وشمیری اووائی چه حاضردی اتومی وسله منع اوله منځه یوسی .

دواړه‌خواوی دغه‌عقیده لری چه باید په‌عام اوتام صورت‌دبی وسلی کولو په باب، د موافقی د حاصلولودپاره کوښښونو ته دوام ورکړی شی اودغه رنګه دتسلیحاتی مسابقی د محدودولواو د بین المللی کړ کیچونو دکمولود پاره دلازمواقداماتو دکید وپه لاره کی دې کوښښونه وشی.

دواړوخواءودبی‌وسلی کولودیوی جهانی جرګی‌د کیدودلزوم په باره کښې‌د ملګروملتود تصمیم لیك په باره کی خپل‌پوره تأیید ښکاره کړ اوهیله ئی وکړچه داسی ټولنه به چه په هغی کی ټول ملتونه باید برخه واخلی په تدریجی دول دبی وسلی کولود پاره که داتومی وسلی به برخه کی وی اوکه د عادی وسلی په برخه کښې لاره پرانیځی .

دواړه خواوی عقیده لری چه دولسی‌چین جمهوریت دچین‌دملت یواځینی نماینده دی اوباید د ملګروملتو پـــه موسسه کښې د هغه حقوق اعاده شی اوپه هغی موسسه کښې خپل قانونی مقام اشغال کړی .

دواړه خواوی دویتنام دحالاتو دخرابیدواود هندچین په‌نا حیه کښې د جګړی د پراختیا د خطر په مناسبت چه جهانی سولی تـــه لوی خطر پیښوی سخته اندیښنه ښکندوی ،دواړوخواءو ددی موضوع په باره کښې خپل موقفونه یوبل ته بیان کړل اوعقیده لری چه د ویتنام‌مسئله د هند چین‌مربوط د ژنیود ۱۹۵٤ کال د تړونونو په اساس‌حل شی تردی چه د ویتنام د خلکو له پاره د غه امکا ن پیداشی چه له خا رج څخه بی‌له هیڅ دول مداخلی څخه خپل سرنوشت و ټاکی اود سولی ، خپلواکی اووحدت له پاره اوخپلوغیرقابل انکارحقوقو ته ورسیږی.

دواړه‌خواوی‌له هغه‌مثبت‌جریان څخه‌چه د هنداوپاکستان ترمنځ ئی دروابطودښه کولوامکانات‌پیداکړی‌دی‌خوښی ښکندوی د افغـانستان صدراعظم‌جلالتمآب محمدهاشم میوندوال دتاشکند د تاریخی جرګی ذکیدوله پاره دشوروی اتحاداودهغه‌دمشرانو کوښښونه‌ډیرستایلی‌دی . اودغـه کوښښ ئی د منطقی اوټـولی نړی له پا ره ګټوربللی دی:

د واړوخواءویقین ښکاره کړیدی‌چه‌د هنداوپاکستان په‌واسطه‌دتاشکند د ټولنی د روحیی‌صمیمانه پیروی دد غودواړوهیواد و تـــرمنځ د تفاهم اوهمکاری اوسولی امکانات برابر کړیدی .

دواړه‌خواوی‌عقیده لری چه د منطقی د هیوادوپه ګډون دبین‌المللی اختلافودحل په باره کښې د خلکو اوملتود عد الت او ګټو اودملګروملتو د موسسی د منشورد نوزواصولوسره سم دروغی د خبروله لاری څخه دمسئلو د حل له پاره چمتووالی او د تفاهم‌روح داقتصادی او فرهنګی همکاری اودښوروابطودپاره امکانات‌اوهم‌دهغومـــوجبات برابروی‌چـــه دولتونه‌دټول بشریت په ګټه‌دسولی اوامنیت په ټینګیدو کښې برخه‌واخلی .

دواړه خواوی عقیده لری چه شوروی‌اتحاد ته‌دافغا نستان د صد ر اعظم مسافرت اوهغه خبری چه وشوی د شوروی اتحاد او افغـانستان ددوستانه روابطود زیات ټینګوالی اوپراختیااودد واړودولتواودواړو ملتود متقابل اعتمادله زیاتوالی سره به مرسته وکړی .

دافغانستان صدرا عظم مـحـمدهـاشم میـونـدوال دمعظم‌تولـواك هـمـــایونی ا علیحـضـرت محمدظـاهـرشـاه لـه‌خـو ااو دافـغانسـتان دحکومت له‌خوالـل ، ای‌بریژنیف ،ا،ن، کاسیګین‌او،ن، و، پادګورنی‌ته بلنه‌ورکړه‌چه‌په‌مناسب فرصت کښې افغانستان‌ته‌دوستانه ،سافرت وکړی دغه‌بلنی‌په‌تشکرسره‌ومنلی‌شوی

وانتشار مستقیم یاغیر مستقیم سلاح ذروی‌را بهرشکلی که‌باشد، برای دول دارای‌اسلحهٔ ذروی‌یافاقدآن‌امکان‌پذیر سازد»انعقاد این ګونه پیمان در بارهٔ عدم‌اشاعه‌وانتشار سلاح هستوی موافق منافع‌تمام مردمان میباشد. طرفین اظهار امیدنمودند که‌دول ذیعلاقه به‌چنان موافقهٔ‌برسند که‌بموجب آن تعهد نمایندازهرګـونه‌استعمـــال‌ســلاح ذروی‌دست‌ګــرفته وهمه آزمایشهای‌ذروی‌رابدون‌استثناممنوع شمرده‌واظهارنمایند که‌حاضرند سلاح‌ذروی‌رامنع‌ونابودسازند.

طرفین‌برین‌عقیده‌اند که‌بایدبرای‌حصول موافقه درباب خلع سلاح عام‌وتام به‌مساعی‌ادامه‌داده شود وهمچنین در راه‌انجام اقدامات لازمه جهت‌محدود‌ساختن‌مسابقهٔ‌تسلیحاتی‌وتخفیف کشیدګی های بین المللی ابراز مجاهدت شود .

طرفین تایید کامل خود را از تصمیم نامهٔ ملل متحد راجع به لزوم انعقادیك کنفرانس‌جهانی خلع‌سلاح‌مجدداً‌اظهارو‌ابراز امید نمودند که چنین اجتماع که درآن همه‌ملل باید سهم ګیرند ، راه را برای خلع سلاح تدریجی چه درقسمت سلاح ذروی وچه سلاح عادی خواهد کشود .

طرفین عقیده دارند که جمهوریت مردم‌چین یګانه نمـایندهٔ ملـت چین‌بوده‌وباید حقوق آن‌درسازمان‌ملل‌متحد اعاده شود و مقام قانونی خود رادرآن‌سازمان‌اشغال‌نماید .

طرفین به‌مناسبت‌وخامت‌اوضاع‌ویتنام وخطر توسعهٔ جنګك درناحیهٔ هندچین که‌صلح جهانی راموردمخاطره‌بزرګی‌قرار میدهد ابرار نګرانی شدیدمینمایند. طرفین‌موقف های خودرادربارهٔ این موضوع بیك دیګر شرح دادندو معتقد میباشند که‌مسئلهٔ‌ویتنام‌رامیتوان براساسی‌قرارداد های سال ۱۹۵٤ ژنیو مربوط‌به‌هندچین‌حل نمود. تااینکه‌این‌امکان‌برای‌مردم‌ویتنام میسر ګردد که‌بدون‌هیچګونه مداخله از خارج سرنوشت خود را تعیین نمایندوبه حقوق غیرقابل‌انکار خویش برای صلح ، استقلال وو حدت نایل ګردند. طرفین‌ازجریان‌مثبتی که امکانات بهبود روابط را بین هند وپاکستان‌میسر‌نموده اظهار‌رضایت مینمایند جلالتمآب محمد هاشم میوندوال‌صدراعظم افغانستان‌از مساعی‌اتحادشوروی‌وزعمای‌آن‌برای تشکیل کنفرانس‌تاریخی‌تاشکند‌تقدیرشایانی نموده این مساعی را برای صلح‌منطقه وهمه‌جهان مفید خوانده‌اند . طرفین اظهار یقین نمودند که پیروی‌صمیمانهٔ‌روحیهٔ‌اجتماع تاشکند‌توسط‌هند وپاکستان امکانات تفاهم وهمکاری‌وصلح‌رابین‌این دوکشور فراهم آورده است .

طرفین‌عقیده‌دارند که‌درموردحل اختلافات بین المللی باشرکت کشور های‌منطقه ، روح‌تفاهم‌وآمادګی‌برای‌حل‌مسایل‌ازراه مذاکرات صلح آمیز مطابق‌عدالت‌ومنافع‌مردمان‌وملل‌ودیګراصول‌منشور‌سازمان‌ملل‌متحد امکانات رابرای روابط‌نیك و همکاری اقتصادی وفرهنګی ونیز موجبات آنرا که‌دول‌در‌تحکیم‌صلح‌وامنیت‌به‌نفع‌تمام‌بشریت‌سهم بګیرند فراهم میسازد .

طرفین‌عقیده دارند که‌مسافرت‌صدراعظم‌افغانستان باتحاد شوروی وتبادل افکاری که‌بعمل آمدبه توسعه وتحکیم بیشتر روابط دوستانه اتحادشوروی‌وافغانستان‌وبه‌افزایش‌اعتمادمتقابل‌هردو دولت‌وهردوملت مساعدت خواهد نمود .

صدراعظم‌افغانستان‌محمدهاشم‌میوندوال از جانب اعلیحضرت معظم همایونی‌محمد ظاهرشاه‌وازجانب حکومت‌افغانستان، ل.ای. بریژنیف ا.ن. کاسیګین‌ون.و. پادګورنی‌رادعوت نمودند تادرفرصت مناسب به افغانستان‌مسافرت‌دوستانه نمایند‌این‌دعوتها باتشکر‌قبول شد .